**د افغانستـــــان اســــلامي امارت**
**د ارشـــــاد، حج او اوقافو وزارت**
**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**
**د ارشـــــاد او دعوت آمريت**
**د خطبو د تنظيم عمومي مديريت**

---

**د جمعي د خطبي لاربنود مؤرخ: ۱۴۴۳/۷/۳۰هجری قمری مطابق۱۴۰۰/۱۲/۱۳هجری شمسی**

# د حمل اوله ورځ د نوروز په نوم لمانځل د اسلام له نظره

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله محمدصلى الله عليه وسلم، الذى بلغ الرسالة وادى الامانه وبهجرته بدأت السنة الهجرية التي هى أساس التاريخ في المعاملات والحسابات لدى المسلمين وعلى آله واصحابه ومن سارعلى نهجه الي يوم الدين. أما بعد:

قال الله تعالى: { لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ وَادْعُ إِلَى رَبِّكَ إِنَّكَ لَعَلَى هُدًى مُّسْتَقِيمٍ} **الحج:(٦٧).**

**د نوروز مفهوم او حقيقت :**

د نوروز ورځ لمانځل د هجري ، شمسي كال حمل مياشتي په لومړي تاريخ شروع كيږي.

په تاريخي منابعو كې راغلي دي چې د پخوا زمانې مجوسيانو د نوروز لمانځلو ته زيات اهميت وركاوه او يو بل ته به يې مباركي هم وركوله.

په دې برخه كې چې د نوروز لمانځل څه وخت او دچا له خوا پيل شو، بيلابيل روايتونه موجود دي.

د ځينو رواياتو له مخې د نوروز جشن لمانځل د كورش كبير لـه خوا پـه (۵۳۸) قبل الميلاد كې د لومړي ځل لپاره اعلان شو.

هغه به په دغه ورځ كې سربازانو ته ترفيع وركوله، تولنيز ځايونه او د اوسيدو شخصي ځايونه به يي پاكول، پـه دغـه ورځ به يې محكومان ببنل.

خو په ځينورو رواياتو كې راغلي دي چې هغه څوک چې د لومړي ځل لپاره يې د نوروز ورځ لمانځل شروع او رامنځ ته كړل د پخوانيو فارسيانو بادشاه جمشيد بن كيومرث ؤ.

مګر هغه څه چې داسلام ټول فقهاء وربانډي اتفاق لري، هغه دادي چې نوروز د زردشتيانو او مجوسيانو ديني اختر دی،همدا راز نوروز دبهائي او قرامطه فرقو اختر هم دی او دايرانيانو تاريخي، ملي او مذهبی اختر او جشن دی.

د نوروز جشن د پخوانيو ايرانيانو اختر ؤ چې هغوی به د نوروز جشن په مختلفو ډولونو او رسمونو سره لمانځلو **لكه:** يو بل ته تحفې او ډالۍ وركول، يو بل ته تبريكي او د خوښۍ مباركي وركول، د كورنو پاكول او د وسائلو نوی كول، ملاقاتونه او يو له بل څخه ليدنه، ځان ته اواولاد ته نوی جامې كول، د چرګانو دهګيو پخول او رنګول، د اووه قسمه ميوو چمتو كول، د سبزي پلو پخول، دماهيانو پخول، د نوروز په ورځو كې رسمي رخصتي كول او دميلو ځايونو ته تلل ، چې د ا ډول اعمال او رسمونه عموما د اختر په ورځو كې ترسره كيږي.

كه چيرې هغه كړنو ، رسمونو ته او افكارو ته وګورو چې په نوروز كې ترسره كيږي، ورڅخه څرګنديږي چې واقعا دا عـــادي لمانځـــل نـــه دي؛ بلكـــي دا داختـــر پـــه څيـــر لمانځـــل دي او لـــه هغـــې هـــم څـــه زيـــات.

آن تر چې ځينو علماؤ ددې ورځو په فضيلت كې دلائل را ټول كړي دي او په دې ورځو كې د غسل كولو، زياتو لمونځونو، روژو نيولو، د اذكارو او دعاګانو كولو لپاره يی آحاديث جوړ كړي دي؛ چې د اهل سنت والجماعت علماء ددليل په توګه ددغه دلايلو دثبوت په برخه كی قناعت نلري .

**په ایران کې د اسلامي اخترونو څخه وروسته تر ټولو مهم جشن نوروز دی :**

ایران ته داسلام مبارک د داخلیدو څخه وروسته دهغه ټولو جشنونو څخه چې پخوا په کې مروج ؤ ، د نوروز جشن دی چې په دعه هیواد کې تل پاتې دی او ددغه هیواد د ملي او فرهنګي جشنونو له جملې څخه شمیرل کیږي.

## ددیني نصوصو له پلوه د نوروز ورځ لمانځل جوازنه لري:

**اول: د قرآن کریم د آیاتونو په رڼا کې د اخترونو او جشنونو لمانځل:**

**لکه :** مخکې مو چې وویل، د نوروز ورځ لمانځل د مجوسیانو اختر دی او د اسلام په مبارک دین کې اخترونه کوم عادت نه؛ بلکې د اسلامي شریعت جزء او ددین دمناهجو او مناسکو برخه ده .بناءً په هیڅ صورت سره دکفارو د اخترونو لمانځل جواز نه لري . الله تعالی فرمایلي دي: {لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ} الحج:(٦٧).

**ترجمه:** مونږ د هر امت د عباداتو لپاره ځای معلوم کړي دي چې هغوی وربانديې عمل کوي.

اخترونه لکه دمکی،حج، لمانځه او روژې په شان عبادت دی او ددوی ترمنځ هیڅ توپیر نشته؛ بلکې اخترونه دي چې شریعتونه او ادیان یو له بل څخه جدا کوي او دا ځانګړتیا په نورو عباداتو کې دومره پیاوړی او بارزه نه ده لکه څومره چې په اخترونو کې پیاوړی دی. بناءً په غیر اسلامي اخترونو کې برخه اخیستل ، د غیر اسلامي عملونو سره توافق او د کفارو دشعائرو او رسوماتو سره توافق ګناه او معصیت دی. څکه پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي: (إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عيدًا وَهذَا عيدُنَا) ترجمه: بیشکه هر قوم اختر لري او دا زمونږ اختر دی.

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مقصد کمکی او لوی اختر ؤ.(عمدة القاری)

د کفارو دیني اختر په حقیقت کې د هغوی دشریعت، شعائرو اوعبادتونو ښکارندوینه کوي په دې اساس په داسې اخترونو کې قلبا برخه اخیستل د هغوی سره توافق او یوشان والی په ګوته کوي او لکه د کفارو د نوروشعائرو او عبادتونو په څیر دهغوی داخترونو لمانځل هم حرام او ممنوع کار دی.

له بل پلوه لکه څرنګه چې لمونځ، روژه ، زکات او حج خلکو ته ګټه رسوي، اخترونه او دیني مراسم په ټولیزه کې د خلکو لپاره په دین او دنیا کې ګټې سره لري، په همدې دلیل هر دین او شریعت د خپلو پیروانو لپاره اخترونه مشروع ګرځولي دي.

الله تعالی فرمایلي دي: {وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ } الحج:(٣٤)

**ترجمه:** مونږ د هر امت لپاره د عبادت ځایونه معلوم کړي دي ددې لپاره دوی په حیواناتو باندې د الله تعالی نوم یاد کړي چې الله دوی ته ورکړي دي.

**دوهم : د کفارو په اخترونو کې برخه اخیستل د نبوي آحادیثو په رڼا کې :**

د پیغمبرعلیه السلام هغه آحادیث چې د غیر اسلامي اخترونو په عدم جواز باندې دلالت کوي په لاندې ډول دي:

۱- (إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عيدًا وَهذَا عيدُنَا) متفق علیه

ددې حدیث معنا داده چې مونږ پرته له لوی اختر او وړوکي اختر بل اخت نه لرو. څکه چې د دې حدیث څخه حصر معلومیږي؛ لکه چې پیغمبرعلیه السلام دلمانځه په باره کې فرمایي: (تحريمها التكبير وتحليلها التسليم) په لمانځه کې ددنیوي کارونو حراموالی په لومړي تکبیر ویلو سره راځي او د دنیایي کارونو حلالوالی د لمانځه څخه په سلام ګرځولو سره راځي.

علامه بدرالدين عيني ددې حديث د يوې برخې په تشريح کې وايي:( أي أن لكل طائفة من الملل المختلفة عيدا يسمونه باسم مثل النيروز والمهرجان) عمدة القاري شرح صحيح البخاري

يعنی د نورو ملتونو لپاره اخترونه شته چې هغوی ورته نومونه لري لکه نوروز او مهرجان چې د مجوسيانو اخترونه دي.

په اسلامي شريعت کې يواځې دوه اخترونه مشروع شوي دي؛ چې هغه کوچنی او لوی اخترونه دي؛ پرته له دې بل اختر رامنځ ته کول جواز نه لري.

۲- عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- الْمَدِينَةَ وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا فَقَالَ « مَا هَذَانِ الْيَوْمَانِ ». قَالُوا كُنَّا نَلْعَبُ فِيهِمَا فِى الْجَاهِلِيَّةِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا يَوْمَ الأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ ». سنن أبى داود-ن (۱/ ٤٤١)

**ترجمه:** حضرت انس رضی الله عنه فرمايي کله چې پيغمبرعليه السلام مديني منورې ته راغی ، د مدينې منورې اوسيدونکو دخوښۍ دوه ورځې لرلی چې دوی به په کې لوبې کولی. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : دا څه دي؟ صحابه ؤ ورته وفرمايل: په دې دوه ورځو کې به مونږ دجاهليت په وخت کې لوبې کولی.بيا پيغمبرعليه السلام وفرمايل: بيشکه الله تعالی دغه دوه ورځې په دوه نورو ورځو درته بدلی کړلی چې هغه له دې ورځو څخه غوره دي؛ چې يو يې لوی اختر ورځ ده او بل يې د وړوکي اختر ورځ ده.

ملاعلي القاري الهروي ددې حديث په شرح کې وايي چې : يومان يلعبون فيهما) : وهما: يوم النيروز، ويوم المهرجان...فيه دليل على أن تعظيم النيروز والمهرجان وغيرهما أي: من أعياد الكفار منهي عنه. مرقاة المفاتيح
**ترجمه:** هغه دوه ورځې چې دوی به په کې لوبې کولی هغه يوه ورځ يې د نوروز ورځ وه(د پسرلي اختر) او بله يې د مهرجان( د مني اختر) ورځ ده . په دې حديث کې ددې خبرې دليل دی د نوروز او مهرجان ورځو درناوی کول او داسې نورو دکفارو داخترونو درناوی کول منع دي.
علامه ابن حجر داحديث را نقل کړی دی او بيا فرمايي: (واستنبط منه كراهة الفرح في أعياد المشركين والتشبه بهم) فتح الباري - ابن حجر (۲/ ۴۴۲)

ددې حديث څخه دا خبره استنباطيږي چې د مشرکينو په اخترونو کې خوشحالي کول او يا دهغوی سره مشابهت کول مکروه دي.

د پورتني حديث څخه صراحتا معلومه شوه چې الله تعالی نوروز او مهرجان د خوښيو د ورځو دلمانځلو په عوض کې دوه اخترونه را وليږل او دغه د خوښۍ ورځې منسوخ شوی.

۳- ابن عمر قال رسول الله صلى الله عليه وسلم (من تشبه بقومٍ فهو منهم)ابو داود
چاچې د کوم قوم سره قصدا ځان مشابه کړ، هغه هم د هغوی له ډلی څخه دی.
۴- عَنْ عَائِشَةَ، (أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِقَطْعِ الْمَرَاجِيحِ) المعجم الأوسط
پيغمبرعليه السلام امر وکړ چې د نوروز د لوبې دې بندې شي.

ددې حديث په شرح کې امام حکيم الترمذی فرمايي:( مراجيح كمفتح ومفاتح ومفتاح ومفاتيح وهو لهو ولعب إنما كان يفعله العجم في أيام النيروز) نوادر الأصول (۱/ ۱۵۸) دا يو ډول لوبې او بازيچې وی چې په نوروز کې به خلکو کولی.

**دآحاديثو شارحين وايي:** ذکر شوي آحاديث په لاندې توګه د نوروز په ممنوعيت دلالت کوي:
أ-دانس رضي الله عنه حديث کې پيغمبرعليه السلام فرمايي:(أبدلكم بهماخيراً منهما) دا ددې خبرې دليل دی چې پرته له هغو ورځو څخه چې شريعت جائز کړي دي دنوروز ورځو لمانځل جواز نه لري.

**ب**- د عائشې رضي الله عنها حديث(إن لكل قوم عيداً وهذاعيدنا) هم په دې دلالت کوي چې داختر او جشن ورځې مشخصې او معينې دي ، بناءً د نوروز ورځو لمانځل د عيدتر عنوان لاندې جواز نه لري.

**ج**- د عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما په حديث کې راځي:( من تشبه بقوم، فهو منهم) په دې حديث کې مسلمانان د نورو اديانو له پيروانو سره د تشبيه کولو څخه منع شوي دي او د نوروز په لمانځلو کې د مجوسيانو او نورو کفارو سره مشابهت راځي نو ځکه د نوروز تجليل ممنوع دی.

نوروز جشن او عيد چې په ځانګړي توګه د زردشتيانو اختر ؤ ددې په لمانځلو کې ځان د مجوسيانو سره په مشابهت کې اچول دي او مسلمانان د کفارو سره په هغه اعمالو او رسمونو کې د تاشبه څخه منع شوي دي چې د هغوی ددين او مذهب برخه وي.

**دريم : د نوروز د لمانځلو په اړه د صحابه کرامو او تابعينو موقف:**

هغه صحابه کرام، اوتابعين چې د نورزو لمانځل يي ممنوع او مکروه ګڼل په لاندې ډول دي:

**۱**- ( ايوب بن دينار عن ابيه ان عليا كان لا يقبل هدية النيروز) التاريخ الكبيرللبخاری (۱/ ٤١٤)

**ترجمه:** علی رضی الله عنه به د نوروز هديه نه قبلوله.

وعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ : أُتِىَ عَلِىٌّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ بِهَدِيَّةِ النَّيْرُوزِ فَقَالَ : مَا هَذِهِ؟ قَالُوا : يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ هَذَا يَوْمُ النَّيْرَوزِ. قَالَ : فَاصْنَعُوا كُلَّ يَوْمٍ فَيْرُوزَ. {ق} قَالَ أَبُو أُسَامَةَ : كَرِهَ أَنْ يَقُولَ نَيْرُوزَ. قَالَ الشَّيْخُ وَفِى هَذَا كَالْكَرَاهَةِ لِتَخْصِيصِ يَوْمٍ بِذَلِكَ لَمْ يَجْعَلْهُ الشَّرْعُ مَخْصُوصًا بِهِ. السنن الكبرى للبيهقي وفي ذيله الجوهر النقي (۹/ ۲۳۴)

**۲**- عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ : مَنْ بَنَى فِى بِلاَدِ الأَعَاجِمِ فَصَنَعَ نَوْرُوزَهُمْ وَمِهْرَجَانَهُمْ وَتَشَبَّهَ بِهِمْ حَتَّى يَمُوتَ وَهُوَ كَذَلِكَ حُشِرَ مَعَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. السنن الكبرى للبيهقي (۹/ ۲۳٤)

**ترجمه:** دعبدالله ابن عمروبن العاص رضی الله عنه څخه روايت دی څوک چې د عجمو په ښارونو کې آبادي وکړي او ددوی نوروز ورځ او دمهرجان ورځ ولمانځي او ددوی سره ځان مشابه کړي او په داسې حالت کې مرګ ورته راغی او په همدې حالت کې ؤ او توبه يې نه وه ويستلی ، د زردشتيانو سره به يې د قيامت په ورځ به حشر وشي.

**۳**- دمسلمانانو عادل خليفه عمربن عبدالعزيز دخپل خلافت په دوران کې د هغه اصلاحاتو په لړ کې چې کوم کارونه دشريعت مخالف ؤ هغه يي له منځه يوړل چې د هغو په کتار کې يي نوروزي تحفې بندې کړلې او خپل والي عبدالحميد ابن عبدالرحمن ته يی داسې وليکل:( كَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ إِلَى عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ : آمُرُك...وَلاَ هَدِيَّةَ النَّيْرُوزِ وَالْمِهْرَجَانِ) مصنف ابن أبي شيبة - ترقيم عوامة (۱۲/ ۲٦۰)

او نه به اخلی تحفه د نوروز او مهرجان.

**۴**- سُئِلَ الْحَسَنُ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ النَّيْرُوزِ ؟ فَقَالَ : مَا لَكُمْ وَلِلنَّيْرُوزُ ؟ لاَ تَلْتَفِتُوا إِلَيْهِ ، فَإِنَّمَا هُوَ لِلْعَجَمِ. مصنف ابن أبي شيبة - ترقيم عوامة (۳/ ۱۰۰)

**ترجمه:** دحسن بصری رضی الله عنه د نوروز په ورځ د روژې نيولو په اړه پوښتنه وشوه، هغه وفرمايل: تاسو د نوروز سره څه کار دی؟ نوروز ته هيڅ توجه مه کوئ دا دعجمو يعنی فارسيانو کار دی.

**۵**- عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ، قَالَ: «إِنِّي لَأَكْرَهُ الْخُرُوجَ يَوْمَ النَّيْرُوزِ، إِنِّي لَأَرَاهَا شُعْبَةً مِنَ الْمَجُوسِيَّةِ» حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (۵/ ۲۰)

**ترجمه:** د طلحه بن مصرف جليل القدر تابعی به ويل: زه د نوروز په ورځ بيرون وتل بد ګڼم، زما په نظر نوروز د مجوسيت يوه حصه ده.

**۶**-عَنْ أَبَانَ بْنِ أَبِي عَيَّاشٍ قَالَ: " لَقِيتُ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ كَرِيزٍ الْخُزَاعِيَّ , فَقُلْتُ لَهُ: قَوْمٌ مِنْ إِخْوَانِكَ مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ، لَا يَطْعَنُونَ عَلَى أَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، يَجْتَمِعُونَ فِي بَيْتِ هَذَا يَوْمًا، وَفِي بَيْتِ هَذَا يَوْمًا، وَيَجْتَمِعُونَ يَوْمَ النَّيْرُوزِ وَالْمَهْرَجَانِ وَيَصُومُونَهُمَا ، فَقَالَ طَلْحَةُ: «بِدْعَةٌ مِنْ أَشَدِّ الْبِدَعِ ، وَاللَّهِ لَهُمْ أَشَدُّ تَعْظِيمًا لِلنَّيْرُوزِ وَالْمَهْرَجَانِ مِنْ غَيْرِهِمْ ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ فَوَثَبْتُ إِلَيْهِ فَسَأَلْتُهُ كَمَا سَأَلْتُ طَلْحَةَ، فَرَدَّ عَلَيَّ مِثْلَ قَوْلِ طَلْحَةَ كَأَنَّمَا كَانُوا عَلَى مِيعَادٍ» كتاب البدع لابن وضاح المالکی(۱/ ۴۲)

**څلورم : د نوروز ورځ د لمانځلو په اړه دفقهاؤ او مجتهدينو نظر:**

داسلام اکثره فقهاء او مجتهدين په ځانګړي توګه حنفي فقهاء د نوروز لمانځل ناروا بولي.

د بیلګې په توګه د ځینو فقهاؤ نظرونه په لاندې ډول دي:
۱- حسن بصری رحمه الله د نوروز په ورځ معلم ته نوروزی او مهرجانی ورکول چې په هغه وخت کې رائج ؤ، مکروه ګڼل.
۲- قَالَ أَبُو حَفْصٍ الْكَبِيرُ رحمه الله : لَوْ أَنَّ رَجُلًا عَبَدَ اللَّهَ خَمْسِينَ سَنَةً ثُمَّ أَهْدَى لِمُشْرِكٍ يَوْمَ النَّيْرُوزِ بَيْضَةً يُرِيدُ تَعْظِيمَ الْيَوْمِ فَقَدْ كَفَرَ وَحَبِطَ عَمَلُهُ اه رد المحتار (۲۹/ ۳۳۸)
**ترجمه:** ابوحفص کبیر حنفی چې دامام محمدبن حسن شیبانی شاګرد او لوی مجتهد دی فر مایي: که چیرې یو بنده پنځوس کاله د الله تعالی عبادت وکړي او بیا یې د نوروز په ورځ مشرک ته یوه هګی په تحفه کې ورکړه چې د نوروز درناوی یې غرض وي ټول عبادت به یې باطل شي.
۳- قَالَ قَاضِي خَانْ : رَجُلٌ اشْتَرَى يَوْمَ النَّيْرُوزِ شَيْئًا لَمْ يَشْتَرِهِ فِي غَيْرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ : إنْ أَرَادَ بِهِ تَعْظِيمَ ذَلِكَ الْيَوْمِ كَمَا يُعَظِّمُهُ الْكَفَرَةُ يَكُونُ كُفْرًا ، وَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ لِأَجْلِ السَّرَفِ وَالتَّنَعُّمِ لاَ لِتَعْظِيمِ الْيَوْمِ لاَ يَكُونُ كُفْرًا . وَإِنْ أَهْدَى يَوْمَ النَّيْرُوزِ إلَى إنْسَانٍ شَيْئًا وَلَمْ يُرِدْ بِهِ تَعْظِيمَ الْيَوْمِ ، إنَّمَا فَعَلَ ذَلِكَ عَلَى عَادَةِ النَّاسِ لاَ يَكُونُ كُفْرًا . وَيَنْبَغِي أَنْ لاَ يَفْعَلَ فِي هَذَا الْيَوْمِ مَا لاَ يَفْعَلُهُ قَبْلَ ذَلِكَ الْيَوْمِ وَلاَ بَعْدَهُ ، وَأَنْ يَحْتَرِزَ عَنِ التَّشَبُّهِ بِالْكَفَرَةِ . **الخانية بهامش الهندية ۳ / ۵۷**

قاضی خان چې مشهورحنفي عالم دی فرمایي: که چیرې یو سړی د نوروز په ورځ داسې څه واخلی چې په نورو ورځو کې یی نه اخیستل که چیرې قصد یې دنوروز درناوی ؤ لکه څرنګه چې کفار یې درناوی کوي، په دې کار سره کافر کیږي او که چیرې دا یې د مسرف او نعمت څخه خوند اخیستلو په نیت را وه نیولو او د نوروز تعظیم یې په نیت کې نه ؤ، بیا دا کفر نه دی. همدا راز که چیرې د نوروز په ورځ یې کوم چاته تحفه ورکړله او د نوروز ورځ تعظیم یې نیت کې نه ؤ؛ بلکې د خلکو دعادت په بناء یې داسې کار وکړ دا هم کفر نه دی، البته لازم دي چې دنوروز په ورځ داسې کار ونه کړي چې ددغې ورځو څخه یې مخکې او وروسته یې نه کوي او لازم دي چې د کفارو سره د مشابهت کولو څخه ځان وژغوري.

۴- قال ابن نجیم الحنفی: ( والاعطاء بِاسْمِ النَّيْرُوزِ وَالْمِهْرَجَانِ لَا يَجُوزُ ) أَيْ الْهَدَايَا بِاسْمِ هَذَيْنِ الْيَوْمَيْنِ حَرَامٌ بَلْ كُفْرٌ .البحر الرائق (۸/ ۵۵۵) ، تبيين الحقائق (۶/ ۲۲۸)

**ترجمه:** د ډالیو ورکول د نوروز په ورځ او مهرجان په ورځ جواز نه لري یعنی په دې ورځو کې تحفې ورکول حرام دي بلکې کفر دی.

۵- وكره ابن القاسم للمسلم أن يهدي إلى النصراني في عيده مكافأة له ورآه من تعظيم عيده وعونا له على مصلحة كفره . المدخل لابن الحاج (۲/ ۴۷)
**ترجمه:** ابن القاسم مالکی هم نصرانی ته دهغوی د اختر په ورځ تحفه ورکول مکروه ګڼل او دایي دهغه داختر درناوی بللو اودایي د هغه دکفر دمصلحت لپاره یو ډول مرسته بلله.
۶-همدا راز علامه ابن الحاج مالکی په خپل کتاب المدخل کې د نورزو دمنکراتو په اړه مفصل بحث کړی دی او وایي چې دا شیان ځیني خلک اسلام ته منسوبوي حال داچې اسلام ددې څخه بیزاره دی.
۷- همدا راز ابن قدامه حنبلی وایی چې د نوروز په ورځ روژه نیول دکفارو سره د مشابهت له امله مکروه ده.
(قال ابن قدامة: وقال أصحابنا بالصيام دون غيرهما افراد يوم النيروز ويوم المهرجان بالصوم لأنهما يومان يعظمهما الكفار فيكون تخصيصهما بالصيام دون غيرهما موافقة لهم في تعظيمها فكره كيوم السبت وعلى قياس هذا كل عيد للكفار أو يوم يفردونه بالتعظيم المغني - ابن قدامة (۳/ ۱۰۵)

خلاصه داچې اسلامي ټولنه ځانته ځانګړتیاوې، شخصیت او تشخص لري چې دا ډول ځانګړتیاؤ ته شعائر المسلمین ویل کیږي، په همدې اساس اسلام مسلمانان د ژوند په ټولو چارو کې اتباع او دشریعت پیروی ته هڅولي دي او دکفارو د شعائرو او رسمونو څخه یې منع کړي دي؛ ترڅو اسلامي او دیني شعائر دکفري او غیر اسلامي شعائرو سره خلط نه شي او غیر شرعي رسومات د شرعي موازینو سره خلط نه شي چې ددې جملې څخه یو هم د نوروز ورځ لمانځل دي.

همدې اصل په کتوسره فقهاء کرامو مسلمانان د دې ورځ له لمانځلو څخه منع کړي دي.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**